# د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام (AWDP)

د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام (AWDP) په پام کې لري چې په معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ (ICT) او تجارتي مدیریت برخو کې د ودې فرصتونو چمتو کولو ترڅنګ، د افغان دولت او امریکا متحده ایالاتو د پرمختیایي اهدافو له بشپړولو سره هم مرسته وکړي.

دغه پروګرام هڅه کوي چې د ۲۵،۰۰۰ تنو افغان وګړو د کارګمارنې او معاشونو کچه لوړه کړي چې لږترلږه ۲۵ سلنه به یې ښځې وي. د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام په سترو اقتصادي برخو کې د کاري ځواک روزنې، د بېکارۍ د لوړې کچې، افغان ماهرو تخنیکي کارکونکو کمښت او روزل شویو مدیرانو د نه شتون په څېر ستونزو هوارولو له لارې، دغه هدف ته د رسېدو هڅې کوي. په دې لاره کې به دغه پروګرام باکیفیته او تقاضا محوره تخنیکي او تجاري تعلیمات د کارګمارنې او شغلي ملاتړ خدمات وړاندې کړي.

د دغه پروګرام پروژې د خصوصي شرکتونو، غیر انتفاعي ملي او بین المللي مؤسساتو او مشورتي خدمتونو ټولنو په مرسته د بلاعوضه مرستو په واسطه چې د آزادې سیالۍ له لارې اعطا کیږي، پلی کیږي.

د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام خپل تقاضا محوره میتود په څلورو پړاوونو کې پلی کوي:

**۱) د تقاضا ارزول؛**

**۲) د ښوونیز نصاب چمتو یا تعدیلول؛**

**۳) د وړتیا پر بنسټ زده کړې؛ او**

**۴) د دندې اړوند خدمتونه.**




**د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام دا مهال په شپږو ښارونو: کابل، مزار شریف، هرات، جلال آباد، کندهار او بامیانو کې پلی کیږي.**

**دغه پروګرام د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیایي ادارې په مرسته او د نوښتګرو همکارانو د نړیوالې مؤسسې (Creative Associates International) له لوري پلی کیږي.**

د لا ډېرو معلوماتو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
برېښنالیک: info@crea-awdp.com
ټیلفون: +۹۳ (۰) ۷۹۶ ۱۸۹ ۱۹۱
انټرنټي پاڼه: www.crea-awdp.com

USAID
د امریکا دولس لخوا

## د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام (AWDP) لاسته راوړنې

د ۱۳۹۱ د ثور د میاشتې څخه
تر۱۳۹۶ ثور میاشتې پورې



## د پروګرام موخې:

- د ۲۵،۰۰۰ نیمه مسلکي کارکوونکو روزنه او کارګمارنه، چې لږترلږه څلورمه برخه به یې ښځې تشکیلوي.
- د تخنیکي، مسلکي او تجاري مدیریت کورسونو پیاوړتیا.
- د کارګمارونکو او ښوونیزو دورو چمتو کوونکو ترمنځ د اړیکو ټینګول.
- تخنیکي، مسلکي او تجاري مدیریت پروګرامونو ته د لاس رسي کچې لوړول.
- د نیمه مسلکي کارلټوونکو لپاره د کارګمارنې خدمتونو وړاندې کول، د رتبې اخستلو لړۍ اسانه کول، او د روزل شویو کارکوونکو لږترلږه ۳ سلنه معاش لوړول.
- د افغانستان په لویو ښارونو کې د خصوصي تحصیلي مؤسسو د کار د زمینې د برابرولو د برنامې د پایښت لپاره د سلا مشورې ورکولو مرکزونو جوړولو په برخه کې به مرستو ته دوام ورکړي.



## د پروګرام لاسته راوړنې:

تر ۱۳۹۵ کال د جدي میاشتې پورې، د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام ۸۴ لنډ مهاله ښوونیز پروګرامونه د نیمه مسلکي کارکوونکو او کار لټوونکو لپاره عملي کړي دي. دغه پروګرامونه د تخنیکي مهارتونو او تجاري مدیریت د ودې لپاره د خصوصي سکټور د اړتیاوو په ځواب کې ډیزاین شوي دي. د دغه ۸۴ پروژو په پلي کیدو سره تر دې دمه له ۳۲۴۰۰ ډېر افغانان د افغانستان د خصوصي سکټور له لومړیتوبونو سره سم مهارتونو کې روزل شوي، چې له دې جملې یې ۳۶ سلنه ښځې دي.

سربیره پر دې، موږ له ۲۱۷۰۰ ډېر نیمه مسلکي/منځنۍ کچې کارکوونکي یا کار لټوونکي په خصوصي سکټور کې په دندو ګمارلي یا مو له هغوی سره د معاش لوړیدلو کې مرسته کړې، چې له جملې یې ۳۶ سلنه ښځې تشکیلوي.

دغه پروګرام اوس مهال ۲۱ د تطبیق په حال کې روزنیزې پروژې لري او په پام کې لري چې د ۱۰ نورو پروژو قراردادونه د آزادې سیالۍ له لارې هم اعطا کړي.

په ټولیزه توګه، دغه ښوونیز پروګرامونه به د ۱۰۰۰۰ افغانانو چې سرروزونکي او د پوهنتونونو څخه تازه فارغ شوي کسان شامل دي، د روزنې زمینه برابروي چې له دې جملې نه ۶۶۰۰ تنه به په کار وګمارل شي او یا هغوی سره لږترلږه تر ۳ سلنې پورې د معاش په لوړیدلو کې مرسته وشي.

دغه ښونیز پروګرامونه د افغانانو د مختلفو مهارتونو د روزنې له لارې پر بهرنې کاري ځواک د خصوصي سکټور تکیه کموي.

## لومړیتوب لرونکي سکټورونه:

- د پروژې مدیریت
- خرڅلاو او بازارموندنه
- ارتباطي او معلوماتي ټکنالوژي
- مالي مدیریت
- رسنیز مهارتونه
- د هوټل مدیریت

### هغه کسانو شمیره چې د افغانستان د کاري ځواک د پیاوړتیا پروګرام د روزنیزو پروګرامونو نه برخمن شوي، په کار ګمارل شوي اویا د معاشاتو د کچې لوړوالی




| ښار | روزل شوي | په کار ګمارل شوي/ترفیع |
|---|---|---|
| ګردیز | ۴۴ | ۴۱ |
| غزني | ۴۷ | ۳۴ |
| خوست | ۴۸ | ۳۰ |
| شبرغان | ۵۰ | ۴۹ |
| بامیان | ۵۰ | ۴۹ |
| فیض آباد | ۱۲۶ | ۱۲۰ |